
بسم الله الرحمن الرحيم

فلا يظهر على غيبه احدا الا من ارتضى من رسول

دے عالمگیری






قرآن شریف حدیث



نئی ایجادونه

او

قیامت



مؤلفہ

الحاج حبیب الرحمن مفسر تفسیر حبیبی و تشریح بخاری دار التصنیف

رستم ضلع مردان



بکتابت:-
حسن شاہ رستم کمرگئی

ہدیہ:-
دولس آنے ۱۲

تعداد ۱۰۰۰ عدد

(منظور عام پریس پشاور)

مجموعهٔ فهرست مضامین دَ قران او تحقیقي وینا کانې

شکریه

دَ کتابچه په اسناد دَ اهل بیتو دَ حاجي شیر حسن خانصاحب ساکن انجن آباد بانډه کوتریان علاقه سدهوم چهاپ شوه. خدای دې دِ دیته دَ دنیا او آخرت خوشحالي ورکړي. جزاکم الله خیر الجزاء في الدارین.

امداد : دوه سوه روپۍ ۲۰۰/-

حبیب الرحمان مدظله العالی

بسم الله الرحمن الرحیم ط

(۱) خوږ نبي ته دَ غیبو علم ورکول۔

دَ خدائے دَ پاره دَ هغه دَ جلال او جمال مناسب ثناګانے دي. او په خوږ نبيﷺ دَ خدائے په لکهونو رحمتونه دي. کوم چه دَ خدائے او دَ خوږ نبي دَ شان مناسب دي.

خدائے دَ دنیا په پېښو او خکاره ټولو مخلوقاتو عالم دے۔ او چه هغه او غواړي دَ ځینو غیبو نه خپل خوږ رسولﷺ خبردار کړي۔ دا خبره دِ دے مبارک ایت نه معلومیږي. چه "عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖ اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ" ط خُدائے په غیبو عالِم دے او په دے غیبو بل څوک په خپل کوشش نه شي عالم کیدے۔ څوک چه خدائے اُغواړي نو څه قدرے دَ غیبو علم خدائے رسول ته ورکړي.

دا معلومه خبره ده۔ چه پېښو رسولانو کښ څمونږ خوږ نبيﷺ دَ ټولو رسولانو نه لوے او اخیري رسول ؤ. خاتم النبیینؐ او دَ کامل دین حامل ؤ. ځکه ده ته خدائے دَ غیبو ډیر علم ورکړے ؤ۔ یو څو احادیث دے په ثبوت کښ لیکم په بخاري شریف کښ دَ حضرت عمرؓ روایت دے۔ چه یوه ورځ خوږ نبي مونږ ته یوه خطبه اووے او دَ دُنیا دَ اول پیدائښت نه دَ خلقو جنت او دوزخ ته دَ داخلیدو پورے ئے راته ټکښ او ورستو وینا ګانے اوکړے. حضرت عمرؓ وائي۔ چه دا دومره لوئے بیان ؤ۔ چه چا ته یوه خبره یاده پاتے شوه چا ته بله۔

او بل روایت دے چه خوږ نبي دَ سحر مانځه نه تر ماښینه دَ روستو او مخکښ واقعاتو بیان اوبیا دَ ماښین دَ مانځه نه پس تر ماز یګره او دَ مازیګر دَ مانځه نه روستو تر ماخامه ئے دغه قسم روستني او مخکني ترقیا متورالونکي واقعات بیان کړل.

دا قسم ډیر احادیث دي. نو دَ تېرو واقعاتو ذکر خو مخکښو عالمانو په خپل خپل وخت کښ کړے ده. څه دَ نن زمانے دا ایجادات. او دَ دینه فائدے او نقصانات او څمونږ بد اخلاقي او فسادات لیکم. کوم چه خوږ نبي ته مخکښ نه خوئے شو یو ؤ. او غرض مې دا دے چه قران او احادیث دَ ټول انسان دَ خیر او شر بیان کوي۔ او ترقیا متومو دَ حالاتو نه خبره دي. او مونږ صرف په دے خپل خیر او شر پیژندے شو

د زمانې د واقعاتو ذکر په قرآن او احادیثو کښې کله صراحتاً او کله اشارةً وی. کله
په مثالی رنګ کښې وی. کله په تشبیهی رنګ کښې وی. خوږ نبی ته جوامع الکلم ورکړې
شوې وُو. ځکه دی دا ټولے مختلفو د بیان طریقے استعمالوی.
څه دمے د ورے کتابچے نوم

قرآن وحدیث او نني ایجادونه او قیامت

کړم. وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ ط

حبیبُ الرحمٰن

(۲) خوږ نبی د راتلونکو خبرو ورکوی:-

د بخاری شیخ حماد په کتاب الفتن کښې د امام احمد په روایت په کبیر کښې یو حدیث
نقل کوی. چه "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَرَوْا أُمُورًا عِظَامًا لَمْ تَكُونُوا تَرَوْنَهَا وَلَا تُحَدِّثُونَ
بِهَا أَنْفُسَكُمْ" چه قیامت به تر هغه قائم نه شی تر دے چه تاسو داسے لوے لوے
کارونه او وینئ چه نه به تاسو چرے لیدلے وی او نه به ستاسو په زړه کښې تیر شوی
وی. داحدیث د ټولو احادیثو مجموعه ده. چه د دے ننو ټولو لویو لویو مشینونو او
کارګرو خبر ورکوی. او کوم چه لا د دینه زیات په راتلونکښې زمانه کښې ښکاره کیږی. ځکه
چه دا نني ایجادات نه مخکښې چا لیدلی وُو او نه چا په زړه کښې تیر شوے وُو. بلکه دا قسم
خبرے به مخکنو خلقو ناممکنه ګنړلے. لکه نننی الوتکے او بیا دا د آواز نه تیزی چه په ګهنټه
کښې په سوونو میله فضا ته الوځی. او په اوبو کښې د ننه ابدوزجهازونه چه پټ
پټ تګ کوی. او یو بل سره د لاکونو میله لرے خبرے کول. تردے چه مغربی د مشرقی
سره ایم وی کیږی لکوی. او لا اُوس خو دی د لرے نه په ټیلیویژن کښې د نړو خوږو
د الوتکو او موټرو ښکلو نه هم وینئ. او په تارونو کښې د رڼا تر لرے لرے بوتلو
کوی. او خارجے. تر دے چه باندے پر روخانه کوی. او عجیبه خو داده چه دا بجلی
د اوبو نه حاصلوی. سره د دے چه اور او اوبه د یو بل ضد ګنړلے شو. دا ټولے
خبرے د مخکښې نسل کاله مخکښې محالے او ناممکنے ګنړلے شوے. لوړو نړو تاسو اولیدے
دا ټولے خبرے د خوږ نبی په دے څلور ویا کښې داخلے دی. حَتَّى تَرَوْا الْأُمُورَ الْعِظَامَ
الَّتِي لَمْ تَكُونُوا تَرَوْنَهَا ط تر دے چه تاسو به نالیدلی لوئے ایجادات او وینئ دا هغه د خوږ

نبیؐ کلمات جامعه او لویه معجزه ده . وَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ اَلْفَ اَلْفَ مَرَّةٍ . خوږ نبیؐ بیا تش
د دے ذکر نه دے کړے بلکه په طبرانی کښې د بزاز روایت دے چه سَنَتْرَوْنَهَا قَبْلَ
اَنْ تَقُوْمَ السَّاعَةُ اَشْيَاءَ سَتُنْكِرُوْنَهَا عِظَامًا تَقُوْلُوْنَ هَلْ كُنَّا حُدِّثْنَا بِهٰذَا فَاِذَا رَاَيْتُمْ ذَالِكَ
فَاذْكُرُوا اللهَ تَعَالٰى وَاعْلَمُوْا اَنَّهَا اَوَائِلُ السَّاعَةِ . نزدے ده چه قیامت د قائمیدو نه مخکښې
به تاسو داسے څیزونه او وینئ چه تاسو به د دینه انکار کوئ او داسے به وائی چه مونږ
ته خو دے مخکښې چا ذکر هم نه دے کړے . خوږ نبیؐ وائی چه دا قسم عجیبه عجیبه لوے
لوے ایجادات او وینئ نو خدائے یاد کړی او پوهه شی چه دا د قیامت اولنی علامات دی .
دا ریل گاډی او انجنونه او نور دغه قسم د کارخانو لوے او قسما قسم کارکونکی مشینونه
د خوږ نبیؐ د مخکښې وینا کانو او د قرآن شریف د بعض ایتونو نه معلومیږی کاډیل
کاډی لاری د دے بولو عجائباتو په باره کښې دا ۳ ے د قرآن ایتونه اوګورئ .

د قرآن ایتونه :-

(۱) وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ○ او
او د خدای دے قدرت نښه دا ده چه مونږ اولادِ آدم په ډکو کښتو کښې سواره کړه
د دی دپاره مو دغه قسم کشتئ په وچه کښې پیدا کړے چه دی پکښې سوریږی .
د ډکو کشتو سره چه سورلی او ډیر مالو نه پکښې اچولے شی . په اوچه کښې کشتئ
دغه اور گاډی لاری او لسونه کیدے شی . مخکښو مفسرینو ته څکاره نشته د دعوی
په خیال کښې هیله اوخ د اوچے کشتئ دا غلم . خو چه ته کشتئ او چرته اوخ . لوه
کشتئ د سلو اوخانو سامان اوړی . نو اوخ کله د کشتئ مثال کیدے شی . د کشتئ مثل
د اور د گاډی ډبئ او لاړئ کیدے شی . او دغه عبد الله ابن عباس په هغه وخت
کښې اشاره کړے ده چه " وَخَلَقْنَا لَهُمْ سُفُنًا اَمْثَالَ تِلْكَ السُّفُنِ يَرْكَبُوْنَهَا " او مونږ به دینه
په وچه داسے کشتئ پیدا کوو چه دی به په دے سورلی کوی . دا د خوږ نبیؐ د دعا
برکات وو چه ده څوارلس سوه کاله مخکښې د زړه په رڼا د دے ایت دا قسم تفسیر
اوکه . د خوږ نبیؐ دا دعا ده چه " اَللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَعَلِّمْهُ التَّاْوِيْلَ " خدایه
ابن عباس ته د دین پوهه او د ایتونو مطلبونه اوښیے .
(۲) وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ لِتَرْكَبُوْهَا وَزِيْنَةً ۭ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ○ او خدائے
اسونه قچیر او خره د سورلئ او ډول دپاره پیدا کړی دی . او لا نور به دا قسم څیزونه پیدا کړی

چې تاسو ئې د رخوږ نبي په زمانه کښې) نه پیژنئ -

په دې کښې هم قسم د سورلو موټرو لارو ګاډو هوائی جهازو لو ته اشاره اشوه.

(۳) د قیامت په نخو کښې "وَإِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ"، قران بیانوی چې د قیامت نه مخکښې به په اوخو سفرونه بندشي په دې به څې نه شي اوړې. "عِشَارُ" د لسو میاشتو بلاربو اوخو ته وائي. داځکه چې د سامانونو او سفرونو د پاره به د اوخانو په ځائې لارے د ریل ګاډو ډبے جوړے شي. په دے به سورلی او سامان اوړے شي. نن په ټوله دنیا کښې دغه دِ تاخو وینئ چې اوخان بے کاره شو. تردے چې په حجاز او جزیرة العرب کښې هم د اوخانو سفرے ډیرے کمے پاتې شوے.

او په مسلم شریف کښې ابوهریرهؓ د خوږ نبی نه روایت کوی. چې "وَاللّٰهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا"، قسم دے چې خامخا به عیسی د مریم ځوئې د اسمان نه راکوز شي - او دے به د انصاف فیصلے کوی. د سولی لرګی به مات کړی. خنزیران به قتل کړی. ټکسونه به پور ته کړی. او اوخے به بے کاره شي. لیس په دے به کار روزګار نه شي کیدے.

دا حدیث چې اوخے به بے کاره شي. د "إِذَا الْعِشَارُ عُطِّلَتْ"، تفسیر دے. چې په اوخانو به سورلی او تجارتی سامان نه شي اوړے. لو ګویا معلومه شوه. چې ریل ګاډی لارۍ وغیره د عیسیؑ د اسمان نه د راکوزیدو او د قیامت د قائمیدو نخے دی. او د غسے د دجال په ذکر کښې چې د عیسیؑ د راکوزیدو نه به مخکښې وی زیات وضاحت دے چې "إِنَّهُ سَيَطُوفُ الْأَرْضَ بِأَسْرِهَا فِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا. اَلْيَوْمُ الْأَوَّلُ مِنْهَا كَسَنَةٍ وَالثَّانِي كَشَهْرٍ وَالثَّالِثُ كَجُمُعَةٍ وَبَاقِيهَا كَسَائِرِ الْأَيَّامِ" دا دجال به ټوله مزکه په خلویښتو ورځو کښې اوګوری. چې د څخه اوله ورځ به د کال همره وی. او دویمه د میاشت برابره وی. او دریمه ورځ به د جمعے د ورځو برابر وی. او باقی او دیرش ورځے به ځمونږ د عامو ورځو په برابر وی، نو په دے حساب به ګویا دا خلویښت ورځے ځمونږ په حساب یو کال دو نیمے میاشتے شي. دا قدرے موده ځمونږ د د دمبو سورلو اوخانو وغیره په ذریعه د ټولے مزکے او بانډو د کتو د پاره نه کافی کیږي. دجال به په دے سفر کښې د مکے مدینے او بیت المقدس د دروازو ته هم ورسی. او دے

بہ ډېرے نہ دَخوږ نبیؐ د روضے مبارکے قبہ اوویني - دخوږ نبیؐ دزمانے اوخان
او اوسنہ د دجال د دے سفر ذریعہ نشي کیدے - پہ دیکښي ضرور ځمونږ د زمانے
دے نوؤ دَسفر لارو هوائي جهازونو د غیرہ ؤوتہ دخوږ نبیؐ اشارہ دہ - او داهغہ
ځکښي دیناده چہ خوږ نبیؐ تہ خولے شوي دہ - او د مسلم پہ روایت کښي دالفظ هم
دے چہ "قُلْنَا یَا رَسُولَ اللّٰہِ وَمَا اِسْرَاعُہٗ فِی الْاَرْضِ قَالَ کَالْغَیْثِ اِسْتَدْبَرَتْہُ الرِّیْحُ" ځہ
اصحابو عرض اوکړو چہ دُ د دے دومرہ گرندي گرزیدو مثال بہ څہ رنگ وي ؟؟؟
خوږ نبیؐ اووے دا بہ داسے وي لکہ وریځ چہ باد پہ مخہ واخلي - دا دهوائي جهازونو
تہ اشارہ معلومیږي - چہ تاخوئے هره ورځ وینئ -
او د دے تاکید دَ امام مهدي پہ خبرونو کښي زیات معلومیږي - چہ "اِنَّ النَّاسَ
یَتَوَجَّهُوْنَ فِیْ طَلَبِہٖ مِنْ مَکَّۃَ اِلَی الْمَدِیْنَۃِ وَیَتَرَدَّدُوْنَ بَیْنَهُمَا مِنْ اِنْتِهَائِهِمْ مِنَ الْحَجِّ اِلٰی یَوْمِ عَاشُوْرَۃَ
ثَلَاثَ مَرَّاتٍ" چہ خلق دَ حج نہ فارغ شي نو دي بہ دَ امام مهدي پہ طلب کښي دَ مکے او
مدینے پہ مینځ کښي تر عاشورے پورے درے کرتہ منډے اوهي - دَ حج نہ دَ فراغت نہ
د عاشورے دورځے پورے صرف پنځویشت ورځے کیږي - او دَ خوږ نبي دَ زمانے اوخان پہ دے
ورځے کښي دَ مکے نہ مدینے پورے یو کرتہ رسے تلے راتلے شي - ځکہ چہ لس ورځے د مکے نہ مدینے
تہ او لس ورځے د مدینے نہ مکے تہ بہ پہ اوخانو لگیدے - نو درے کرتہ تلو راتلو دپارہ
درے میاشتے پکار دے - پہ دے وجہ د نورو جوابونو پہ ځائے داجواب څہ دے چہ پہ
دیکښي خوږ نبي دے نوؤ سورلو لارو موټرو او هوائي جهازونو تہ اشارہ کوي -
پہ دے بنا د ډیرو احادیثو د مهدي او د عیسیٰؑ او دَ دجال نہ معلومیږي چہ پہ دیکښي دے لارو وغیرہ تہ اشارہ دہ
او پہ کبیر کښي طبراني دابو موسیٰ اشعري پہ ذریعہ روایت کوي - چہ خوږ نبي دے چہ
"لَا تَقُوْمُ السَّاعَۃُ حَتّٰی یَتَقَارَبَ الزَّمَانُ وَتَنْزَوِی الْاَرْضُ زَیًّا" قیامت بہ هله قائم شي چہ زمانہ بہ
نږدے شي او مزکہ بہ را اُنغښتے شي او ورسرہ "وَیَنْقُصُ الْعِلْمُ وَالْعَمَلُ وَیُلْقَی الشُّحُّ وَیَکْثُرُ الْهَرَجُ"
چہ د دین علم او پہ هغے بہ عمل کم شي - شوم توب بہ پیدا شي - او پہ ملکو نو کښي بہ جنگونہ ډیر شي -
اُس دَ مزکے رانږدے کیدو خو پہ ریلگاډي او لارو باندے تاشو وینئ گهنټہ
نیرہ نہ وي چہ دَ یو ځائے نہ بل ځائے تہ رسیدہ اُ شي - دَ هفتو سفرے پہ گهنټو کښي
کیږي - اوځکہ د دے صفا تشریح پہ ترمذي کښي کیږي "لَا تَقُوْمُ السَّاعَۃُ حَتّٰی یَتَقَارَبَ

الزَّمَانُ فَتَكُونُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَتَكُونُ الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَتَكُونُ الْيَوْمُ كَالسَّاعَةِ وَتَكُونُ السَّاعَةُ كَالضَّرْمَةِ بِالنَّارِ" چه قیامت به قائم نشي ترڅو چه زمانه به لنډه شي نو کال به د میاشتې همره او میاشت به د جمعې همره او جمعه به د ورځې همره او ورځ به د ګهنټې همره او ګهنټه به د اور د لمبې همره اوګرځي" او د مزکې د تناوانو د راخکو مطلب دا دے چه ښارونه به د تیز رفتارو ګاډو په ذریعه نزدے شي. ترڅو چه د لرے ښار اوسیدونکے به وی دکان به ئے په بل لرے ښار کښې وی. مثلا به دکان ته ځي مابنام به په هوائی جهاز یا د غسے بل ګاډی وغیره کښې کور ته راځي نو به نه پوهیږی چه دے د دې ښار دے که د بل ښار. په عربو کښې یو وزیر په قاهره کښې وی او دفتری کار له اسکندریه ته ځي او مابنام بیرته قاهرے ته راځي او د قاهرے او اسکندریه د هفتو د سفر فاصله ده.

هم د غسے احمد د ابوهریرة حدیث روایت کوی چه خوږ نبي ﷺ وے چه "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَظْهَرَ الْفِتَنُ وَيَكْثُرَ الْكَذِبُ وَتَتَقَارَبَ الْأَسْوَاقُ وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ" چه قیامت به قائم نه شي ترڅو چه فتنې به ښکاره شي او دروغ به ډیر شي او بازارونه به نزدے شي. او زمانه به نزدے شي. او په بل روایت کښې دي چه "تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا وَحَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ بَيْنَ الْعِرَاقِ وَمَكَّةَ لَا يَخَافُ إِلَّا ضَلَالَ الطَّرِيقِ" چه د قیامت نه مخکښې به د عرب مزکه باغونه او نهرونه اوګرځي. او د عراق او د مکې د مینځ سفر به بے ویرے کیږی. صرف د لارے د خطائي ویره به وی.

نو چا چه د عربو سفر کړیدے هغوی د عراق او د مکې سفرے په لارو کښې لیدلے دی. نه هغه تنده شته نه هغه ګرمی نه ستوماتیا. او د غسے په جزیرة العرب کښې په ډیرو ځایونو کښې د هر طرف نه د باغونو میوے په لارو کښې اوړے راوړے شي. نه به وائې چه هر ځائے باغ باغ دے. ترڅو چه خوږ نبي ﷺ فرمائلي چه "يَخْرُجُ النَّاسُ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى الشَّامِ يَبْتَغُونَ فِيهَا الصِّحَّةَ" چه خلق به د مدینې نه شام ته د صحت حاصلولو دپاره ځي.

د مدینې او شام په مینځ کښې د شلو ورځو سفر وو ناجوړه چه په دغه اوښانو شل ورځے سفر اوکړی. نو چه دے به جوړ شي که ناجوړه. دا د خوږ نبي ﷺ مخکښې فرمان دے. د مدینې ښاری د آرام ژوند تیروونکے د اوښانو دا سفرے نه شي کولے

د ریل ګاډو او لارو سفرته اشاره ده. چه که غواړی نو په هوائی جهاز کښی دِ به
مدینه کښی کینی او شام ته دِ دَ اب وهوا د بدلی دپاره لاړ شی. او هلته دِ
په ښه هوا کښی آرام اوکړی چه جوړ شی. او په د یکښی دیته اشاره ده چه
د شام نه به مدینے ته ریل ګاډے لاړ شی نو کله چه په عربو د ترکو حکومت
وُو نو د ریل ګاډی پاټلئ غوړولے شوے وه خو چه په سنه ۱۹۱۴ کښی ډیره
حکومت پورته کړے شو نو عربو دا پاټلئ اُو نړوله. او اُوس هم د ریل ګاډی
په باره کښی د عربو کورنی بحثونه روان دی. کیدے شی چه ریل ګاډی روان
شی. د ترکو په زمانه کښی به په ریل ګاډو کښی خلق د صحت حاصلولو دپاره د
مدینے نه شام ته تلو. او په عربو چه د فرنګیانو یو قسم غلبه شوه او عربو
د فرنګیانو هسے جامے اغوستونکی شو. دیته خوږ نبی ﷺ اشاره کوی "سَیَکُوْنُ
فِیْ آخِرِ اُمَّتِیْ رِجَالٌ یَرْکَبُوْنَ عَلَی السُّرُوْجِ کَاَشْبَاهِ الرِّجَالِ یَنْزِلُوْنَ عَلٰی اَبْوَابِ الْمَسَاجِدِ نِسَاؤُهُمْ
کَاسِیَاتٌ عَارِیَاتٌ عَلٰی رُؤُسِهِنَّ کَاَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْعِجَافِ اَلْعَنُوْهُنَّ فَاِنَّهُنَّ مَلْعُوْنَاتٌ" نزدے
ده چه زما په اخر امت کښی به خلق په داسے زینونو سوریګی چه هغه به لکه د اوخانو
دکتو وی او خپله سورلے به د جماعتونو په دروازو کښی اودروی. او د دی ښځے
به داسے جامے اغوندی چه د دینه به بربنډ ے وی. او په سرونو به ئے
داوخ د کوهان هسے توپے وی". دا هغه ننۍ موټرے او لاری دی. چه د لرے
لرے د پکښی خلق مونږ ته حرمینو ته ځو. او موټرے د جماعتونو دروازو ته
اودروی. او دی مونځ اوکړی نو بیا ځی. او د عربو د ښځو لیدلی جامے دی.
چه لوځوائے ښکلے ښکاری. په سرونو ئے انګریزی ټوپۍ اغوندے وی. په دے
بربنډ ښځو خوږ نبی ﷺ لعنت وائی. خوږ نبی په ډیرو احادیثو کښی د اخرے
زمانے د ښځو په بل رنګ کښی ذکر کړیدے. چه تجارتونه به ښځے کوی. دی
به د خپلو خاوندانو سره دکانداری کوی. بلکه قریګی تونګی به په ریل ګاډو
کښی ښځے د یو ښار نه بل ښار ته مالونه اوړی. او غټے غټے سوداګرے
به وی. چاچه د لویو ښاریو سفر کړے وی. هغوی به د ښځو دکانداری
لیدلی وی. ته دے چه اغستونکی ښځے هم ډلے ډلے په بازارونو کښی پیدا ه

د فرنګرو حصے ګرځي - او په یورپ کښي خو سړی او ښځے یو شان کاروننه او ملازمتونه کوي.

ښځو ته خرے هم دا کوشش کوی - چه ښځے وزارتونه او ممبرۍ د سړو هسے حاصلے کړي - او د غه دے تاسو وینئ چه په اسمبلو کښی او جلسو کښی ددی تقریرونه او بیانونه وی - دا ټوله ښځو ته خبره نبی چه په معجزانه انداز کښی ښځو ته د زمانے نقشه داسے راکاګی لکه چه یے وینی - وصلی الله علیه الف مرة.

(۴) قرآن شریف وحدیث او جنګی جهازونه

هوائی جهازونه چه په سفر کښی مزکه لنډوی - او رخت رانغاړی. د دے ذکر خو اوشو - اوس د هغے هوائی جهازونو طرف ته قرآنی اشاره او ګورئ چه په جنګ کښی اشتهارونه او بمونه غورزوی - او خلق غارونو ته زغلوی. او غارے تباه کوی. ایت دے « وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا فَالْعٰصِفٰتِ عَصْفًا وَّالنّٰشِرٰتِ نَشْرًا وَّالْفٰرِقٰتِ فَرْقًا فَالْمُلْقِیٰتِ ذِکْرًا عُذْرًا اَوْ نُذْرًا اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ »

مُرْسَلٰتِ لیګلے شوے عُرْفًا مخکښی روستو عٰصِفٰتِ تیز تلونکی فٰرِقٰتِ جدائی کونکی فَالْمُلْقِیٰتِ ذِکْرًا یادګیرنه غورزونکی عُذْرًا د عذر کولو دپاره اَوْ نُذْرًا یا د ویرولو دپاره - په دے ایتونو کښی جنګی جهازونو ته اشاره ده - په دیګښی د دے جهازونو حرکتونه او کارونه بیان شوی دی - چه د بمونو نه ډک اولیګلے شی - لو خلق او ښارے ذخوړلو شوو وخو هسے دل کړی - او اخبارونه اشتهارونه په مینځ د جنګ کښی او غورزوی - او د دے ذخپلو ارادو نه خبر کړی - او خلق د دے جهازونو په لید د خواره واره شی - په غارونو کښی ننوځی - کله چه دی غلطه او بے ځایه بمباری اوکړی لکه په هسپتالونو او مدرسو باندے نو د دے په باره کښی معافی او خواری عذر اوکړی - او کله په دی یره راولی - د دے الفاظو زړو مفسرینو په هوا او په ملائیکو تفسیرونه کړی دی - خو زمانے او خوره چه کله د دے ایتونو دغه تفسیر کیږے شی نو راتلونکے زمانه به د دے په تفسیر کښی بل تفسیر ته مجبور شی - او خدائے ج فرمائی « قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰۤی اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْکُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِکُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِکُمْ » حبیب نبی ته ووته اووایه

چه خدای په دې قادر دی چه په تاسو عذاب د برې نه او د ښکته نه راولیږي د دیته هغه لمبونه مراد دي چه د هوائي جهازونو نه په خلقو او ښارونو غورځولې شي او د مځکې هغه پټ باروري سرنګونه او لمبونه دي چه دشمن نه ښخولې شي. چه د دې په ګرځیدو خلاصیږي. د دې ایت په باره کښې چه د خوږ نبي ﷺ نه تپوس اوشه چه د دې ایت څه مطلب دی. نو خوږ نبي ﷺ ورته اووې "اَمَا اِنَّهَا كَائِنَةٌ وَلَمْ يَأْتِ تَأْوِيلُهَا بَعْدُ" چه دا عذابونه به راشي خو تاسو لا لیدلي نه دي. اوس موږ دغه اسماني عذاب د لمبو په شکل کښې او د مځکې عذاب د دننه ښخو باروري سرنګنو په شکل کښې اولیده. او د دې په باره کښې عجیبه حدیث دی چه احمد دی د ابوهریره نه نقل کوی. چه "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُمْطِرَ السَّمَاءُ مَطَرًا لَا تُكِنُّ مِنْهَا بُيُوتُ الْمَدَرِ وَلَا تُكِنُّ مِنْهَا اِلَّا بُيُوتُ الشَّعْرِ" چه دقیامت د قائمیدو نه مخکښې به اسمان داسې باران اوروي چه به د ویښتو د خیمو نه بغیر ټول کورونه وران کړي. دا کورونه ورانونکي لمبونه دي. دا لمبونه د خټو کټو کورونه ورانوي. خو د ویښتو جوړې خیمې به نه ورانې کړي. هغه خو لیونغادر قدر دی وي.

او په ځان غاوره چه ځان ته ترقي یافته وائي او د باریکو ذرونه هائیډروجن لمبونه جوړوي. چه د دې په لوخړه دوست دشمن ټول تباه کیږي. دیته قران شریف اشاره کوي "حَتَّى إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَنْ لَمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ" د دنیا کافران په خپلو ایجادونو غاوره دي. او دې وائي چه موږ په دې هر قسم قدرت لرو. په دې د خیر کارونه کوو او په دې د ډرلونه کوو. او موږ چه اغواړو نو په دې د دشمنانو ښارونه ورانوو. ولې هم دغه لمبونه که نن د دشمن کورونه ورانوي. وابه دی کورونه د شپې یا د ورځې هم ورانولې شي. لکه چه د تیرو واقعاتو او د جنګونو څخه د هیروشیما ښار ویجاړ دی بمونو اوکه د دې نه معلومیږي چه قیامت نزدې دی. صرف د دجال امام مهدي او عیسی ؑ انتظار دی. د دې نه پس به دنیا لیونو په حواله شي او تباهي به راولي

دیته قیامت وائي۔

ټیلفون تار او ریډیو

د دې په باره کښې قرآن شریف " وَيَقْذِفُونَ بِالْغَيْبِ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ " دی به ډلرې نه د نه لیږو په حالت کښې خبرې کوی۔ مزکه که د انسان د وجود د پاره را او نخښتي شوه۔ او په لږ ساعت کښې ډیره لار وهلے شي او غیبی د لرې نه آواز او نه او ریدے شي۔ او د یو خاو نه بل خاو ته بلکه د مغرب نه مشرق ته د خبرو رسائی کیدے شي۔ دا تار، ټیلفون، ریډیو نن هر څوک وینی گوری ۔ چه هر دے د یو بل سره خبرے کوی۔ او خوږ نبی وائي د اِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ يَفْشُوَ الْمَالُ وَ يَكْثُرَ وَ تَفْشُوَ التِّجَارَةُ وَ يَظْهَرَ الْعِلْمُ وَ يَبِيعَ الرَّجُلُ الْبَيْعَ فَيَقُولُ لَا حَتّٰى اَسْتَاْمِرَ تَاجِرَ بَنِيْ فُلَانٍ " د قیامت نه مخکښې به مال ډیر شي ۔ او تجارت به خور وور شي ۔ او چهاپ شوی کتابونه به ډیر شي ۔ او یو سړے به مال خرڅوی خو اغستونکے به وائي چه وار اوکه څه د فلانکی سره چه د فلانکے قبیلے دے صلاح کوم ۔ دلویو سوداگرو ټیلفون ته لږ کینئ چه د لرے ښارلو د سوداگرو سره ټیلفون سوداکانے کوی۔ د یو بل سره صلاکانے کوی ۔ د نرخونو روزانه تپوس نه کوی ۔ هله خرید کوی۔ دا هر څه د ټیلفون په ذریعه په خپل د فترکښې په ناسته کیگی او د ریډیو او کتابونو رسالو په ذریعه معلومات زیا تیگی ۔ خوږ نبی وائي " اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى اَبَثَّ الْعِلْمَ فِیْ اٰخِرِ الزَّمَانِ حَتّٰى يَعْلَمَهُ الرَّجُلُ وَالْمَرْاَةُ وَالْعَبْدُ وَالْحُرُّ وَالصَّغِيْرُ وَالْكَبِيْرُ فَاِذَا فَعَلَتْ ذٰلِكَ بِهِمْ اَخَذْتُهُمْ بِحَقِّيْ عَلَيْهِمْ " حدیث قدسی دے چه خدائے وائي ۔ څه به په آخره زمانه کښې علم خور کړم ۔ تر دے چه سړی ښځے ، مریان ، آزاد ، واړه او لوئی به علم زده کړی ۔ او خدائے وائي چه زه داسے اوکړم ۔ نوزه به د دې بیا په دے وجه اونیسم چه دی به څما د خدائیی حق ادا نه کړی۔

تاڅو نن ورځے په بانډو ، جونگړو او میروکښې په منډو ولنوکښې مدرسے وینئ ۔ اخبارونه او رسالے وینئ ۔ خو د دې ټه زیات علم به د ریډیو کښې دے۔

چه په حجرو کښې خلقو ته درس ورکوي. او تش په اورېدو علم حاصلېږي چه واړه او لوی، غریب او امیر تر ې علم حاصلوي چهاپ خانې او کتابونو او رسالې خو لوستونکو ته علم ورکوي. او رېډیوان پړو ته هم علم ورکوي چه په غوږونو اورېدو علم حاصلوي.

او په ابن ماجه کښې د خوږ نبي ﷺ نه روایت دے «لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا يُضْرَبُ عَلَى رُؤُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ وَالْمُغَنِّيَاتِ يَخْسِفُ اللّٰهُ بِهِمُ الْأَرْضَ وَيَجْعَلُ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ» زما د امت خلق به شراب څکي. او د هغې به بل نوم کېږدي. او د سر به د هغوی سندرو په ماره د ډمې چیچې وائي. په دې وجه به دې به مزکه اچوي. او د دینه به شاډوګان او خنزیران جوړ شي

تاخو د مسلمانانو د شرابو څکونکي وینئ او شرابو ته «بیَر» نوم کړی. په کورونو، هوټلونو، سرایانو او کلبونو کښې رېډیوګان ایښې وي. ډمې چیچې غزلې وائي او مجلسیان په پارټو کښې شراب څکي. د دې اخر د مزکې چاودې دي. تاخو به دے تکړه موده کښې زلزلې او د خاریو تباهۍ قیصې او رېدلې بلکه لیدلې دي. أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ.

او عوف بن مالک د قیامت په شرطونو کښې د خوږ نبي ﷺ فرمان لیکي. چه «وَاتَّخَذَ الْقُرْآنَ مَزَامِيرَ» د قران په رېډیو کښې لوستو چه څکښې او روستو تې چاربیتې، سرندې او رباب نه وي. او خلق چه خه رنګ د باجو په اوازونو خوندونه اخلي. د غسې دې د قران د خوش اوازو نه مزې اخلي او لس دینه ثواب وائي. لور به دے قران پوېدې او په دے عمل کول، د دینه اکثر خلق بې خبره دي. (استوبه دبه)

،۶، اَبدِ وزے کښتۍ

د غسې بارودي سونکونه په «أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ» کښې داخل دي. چه د لاندې غاړې جهازونه وځي. او دا ډوبوي. او د خوږ نبي ﷺ دا فرمان چه تاسو اوس د دے په مطلب نه پوهېږئ. هم د غه دي چه د غه دے مونږ په اوس پوېه شو. خه لوے نبي ﷺ دے وصلّی الله علیه الف الف مرّة

ے ریکارډي باجې او ټایپ ریکارډ خاص سپي

د خوږ نبي ځکښ وینا ده چه احمد ﷺ په خپل مسند کښ د ابی سعید
په روایت داسې نقل کوي چه "وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی تُکَلِّمَ
السِّبَاعُ الْاِنْسَ وَ حَتّٰی تُکَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهٖ وَ شِرَاكُ نَعْلِهٖ وَ تُخْبِرُهٗ
بِمَا اَحْدَثَ اَهْلُهٗ مِنْ بَعْدِهٖ"
په خدای مې دې قسم وي چه قیامت به قائم نه شي ترڅو چه درندګان د
بني آدمو سره او د بني آدمو سره خپله کړوډې او د خپل پیزار پیزوان
خبرې اونکړي او د خپل مالک د کور د خلقو د خبرونه خبر نکړي۔
په یورپ کښ داسې سپي شته چه په لویو جرمونو کښ دي د پولیس
امداد کوي. او دیته د غلو او ډاکوانو پتې ورکوي. او ریکارډي باجې
چه خبرې کوي. دا خو ځمونږ په وطن کښ هم ښکیږي. چه د مصالې نه
جوړ ریکارډونه وي. آواز پکښي بند وي. د غسې په یورپ کښ لویانو به
کورونو کښ په بوټ کښ ټایپ ریکارډ کیږدي یا ئې لکه د لاټې په دیوال بانډ
زوړند کړي او د کور خاوند نه باهر لاړ شي چه بیرته راشي نو د کور خلقو
چه څه خبرې کړې وي هغه ورته ټایپ ریکارډ اوائي. یا ئې پولیس د
پتلون په جیب کښ کیږدي او په دې د جیل د ملزمانو خبرې ریکارډ کړي.
د غسې د خلقو تقریرونه په ریکارډ کوي او بیا د غه خبرې په ملزمانو لیو
قسم ګواهي او اقرار شي. بنده مړ وي او تقریر ئې کیږي. او کیدې شي
چه د ځناورو د خبرو یا د غسې د کټو د حال ویلو نورې څه خبرې معلوم
شي. د غسې چرپا کهرونه چه په یورپ کښ یو عام عادت ګرځیدلے دے.
او مونږ هم د دې تابعدارئ ته ترقي والیو د دې ځناورو په خبرو د غه
منیجان پوهیږي. او دا ځناور د دې نه تعلیم زده کوي. او د ځناورو لوب
په ځائې د بني آدمو هسې زده کړه کوي. او هم دیته قران اشاره کوي چه
"وَ اِذَا الْوُحُوْشُ حُشِرَتْ" ځناور به جمع کړې شي. دا جمع ګړ په قیامت
کښ د کیدو ده نو په دنیا کښ ئې هم تاخړ وینې. په دې ځناورو په نړګونو

روپو بے وجے خرسو نه کول شرعًا ځکه ناجائز دی چه د وطن بنی آدم فقیران د لوږې نه مری۔ په هغوی کښ دا خرس اُشی لو حکومتو به خپل فرض ادا کړی۔ او آزاد ځناور قسین ول هم شرعًا منع دی۔ خاصکر موذی ځناور لکه زمریان او شرمخان خو وجله پکار دی۔ دیته د کرلو نو غوښے ورکول حد درجه نادانی ده ولے مونږ خو لتش د یورپ تابعدارے ته ترقی وایو۔ او د نقل د پاره ۔ عقل، او د شریعت تابعداری پکار ده۔ که جائز نقل وی خو خیر دے خو چه د عقل او قران وحدیث خلاف وی نو دا خمونږ حکومتونو ته نه دی کول پکار۔۔۔ کیدے شی که په آئین اسلامی کښ دا قسم بے مطلبه نقلونه بند شی لکه چه په ۱-۴-۱۹۷۳ ء تمولو قومی ممبرانو په اتفاق دا منظور که ۔خه داشوه چه لوے لوے عالمان پکښ شریک وو۔ که پهٔ دے آئین کښ بیا هم څه کمے پاتے شو نو دغه عالمان به کرم وی۔ په آئین د پاکستان ټول خلق خوشحالئ کوی ۔خدائے دِمونږ ته په دے د عمل توفیق راکړی۔ آمین،،

۸، د پټرولو پیدائش، د غرونو سرنکونه۔

په دے آیت کښ چه ,, وَاِذَا الْبِحَارُ سُجِّرَتْ ،، دے او د اُور دریابونه به راوخوت کیږی۔ دا پټرول په مزکه کښ پټ وو۔ په مزکه کښ امانت پراته وو۔ او دا ځکه پټ شوے وو۔ چه که دا ښکاره شو یوے نو دُنیا به اُور اغشتے وو ۔خو چه د دنیا دورانیو وخت را نزدے کیږی نو دغه د اُور دریابونه را ښکاره کیږی۔ دیته تور سره زر ویلے شی ۔ پټرول په عراق، فارس او نجد کښ (چه حجاز ورته وائی) مونږ ے شی ۔او پټرول دا سے خزانه ده چه سره زر او سپین زر نه دی. خو دا یه ګټلے شی۔

خوږ نبی صلی الله علیه وسلم د دے په باره کښ فرمائیلی دی ۔چه خلق دِ دے نه خیر شی نو په دے به جنګونه اُوکړی ۔ او په سلو کښ به یو جوندے پاتے شی او یو کم سل (۹۹) به مړه شی ۔تا خونن ورځے وینئ چه په عربو کښ د دے پټرولو د پاره امریکے او روس خپل ستار شو نه غوړولی دی ۔ او یهودیان ئے په فلسطین کښ شته کړ یدی ۔ طبرانی ئے په اوسط کښ د ابو هریره نه نقل کوی۔

چه "لا تقوم الساعة حتی تظهر معادن کثیرة لا یسکنها الا اراذلها" قیامت به نه کیږي تر څو
چه پټ خیزونه ښکاره نه شي. او دا پټ خیزونه به رذیلان راوباسي.
او دینه مراد سره زر او سپین زر نه دي ځکه چه دا خو د دنیا پیدا کیدو سره
را ښکاره شوي وو. د دینه مراد هم دغه پټرول دی. چه دا کافران رذیلان
راوباسي. د غسې په "اذا زلزلت الارض زلزالها واخرجت الارض اثقالها" کښې
هم دې پټرولو ته اشاره ده. چه په هره ورځ د دې کوپانو ته بې شماره
تیلان راوځي شي. او د دینه پس بیا د قیامت انتظار دی. د غسې د کاډو، لارو
موټرو د پاره به غرونه سوري کړي. "واذا الجبال سیرت" کښې دینه اشاره ده.
احمد په خپل مسند کښې د سمره په روایت لیکي چه د نور لتوریدو په خطبه
کښې خوږ نبي صلی الله علیه وسلم او فرمائیل.
"وایم الله لقد رأیت منذ قمت اصلی ما انتم لاقون فی امر دینکم واخرتکم و
انه والله لا تقوم الساعة حتی یخرج ثلاثون کذابا واخرهم الاعور الدجال"
ترڅو یکو مابه ما ځکه کښې هغه واقعات اولیده چه ستاسو په مخکښې د دنیا او دین
په باره کښې راتلونکي دي. او قیامت به ښکاره نه شي ترڅو چه دیرش دروغجن
ښکاره نه شي. او آخیري به ئې قاریګه دجال وي.
او خوږ نبي صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه د عیسی نه د قیامت د علامو
تپوس اوکړه. نو هغه ورته اوویل چه غرونه به واوري. او مزکه به د څرمنې
هغسې راو نغښتې شي. نو دا لک لک د غرونو سوړکونه او په لمولو الوا ته به د
قیامت نه مخکښې وي. او په قیامت کښې به بیا د ټولو غرونو دیوبل سره جنګول
دي.

(۹) د بجلۍ د رڼا کا لو خبر:-

په قران شریف کښې دا آیت دی چه "واذا النجوم انکدرت" د ستورو رڼا کالې
به د قیامت نه مخکښې کمې شي. ګویا دا دې نه به زیاتې رڼا کالې پیدا شي. تکه چه "و
اذا العشار عطلت" کښې اشاره ده چه اوښانو ته به حاجت پاتې نه شي. ځکه چه ریل ګاړي
لارې به پیدا شي. دا رڼا د بجلۍ ده. تا څو په کورونو لارو کوڅو، سړکونو او
د لارو موټرو په سرونو کښې د بجلۍ رڼا کالې وینئ چه د دې په وجه اوس د

ستورو رڼاګانې هغه کار نه ورکوي. کوم به چې ځکېښ ورکاوو. د بجلۍ رڼا
پر نوُر غالبه نه ده. ځکه . قرآن د نوُر د پاره «وَاِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ» فرمائي د
بجلۍ رڼا د نوُر په رڼا کمزورې ده. خو په ستورو غالبه ده.

(۱۰) مصنوعي باران :-

طبراني په کبير کښ په حسن روايت سره نقل کوي چه خوږ نبي صلی الله علیه وسلم
اوروي «اُحَذِّرُكُمُ الْمَسِيْحَ وَاَنْذِرُكُمُوْهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ قَدْ حَذَّرَهٗ قَوْمَهٗ وَهُوَ فِيْكُمْ اَيَّتُهَا الْاُمَّةُ
وَمَا يُحْكِيْ لَكُمْ مِّنْ نَّعْتِهٖ مَالَمْ يُحْكِ الْاَنْبِيَاءُ قَبْلِيْ لِقَوْمِهِمْ. وَهُوَ اَعْوَرُ وَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْوَرَ
بَيْنَ عَيْنَيْهِ "كَافِرٌ" يَقْرَءُهٗ كُلُّ مُؤْمِنٍ كَاتِبٍ وَغَيْرِ كَاتِبٍ اَكْثَرُ مَنْ يَّتَّبِعُهٗ اَلْيَهُوْدُ
وَالنِّسَاءُ وَالْاَعْرَابُ. تَرَوْنَ السَّمَاءَ تُمْطِرُ وَهِيَ لَا تُمْطِرُ. وَالْاَرْضُ تُنْبِتُ وَهِيَ لَا تُنْبِتُ
وَيَقُوْلُ لِلْاَعْرَابِ مَا تَبْغُوْنَ مِنِّيْ اَلَمْ اُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا.
وَيَخْرُجُ الدَّجَّالُ فِيْ خَفْقَةٍ مِّنَ الدِّيْنِ وَاِدْبَارًا مِّنَ الْعِلْمِ وَلَهٗ اَرْبَعُوْنَ لَيْلَةً يَسِيْحُهُمْ
فِي الْاَرْضِ اَلْيَوْمُ مِنْهَا كَالسَّنَةِ وَالْيَوْمُ مِنْهَا كَالشَّهْرِ وَالْيَوْمُ مِنْهَا كَالْجُمُعَةِ ثُمَّ سَائِرُ
اَيَّامِهٖ كَاَيَّامِكُمْ هٰذِهٖ. وَلَهٗ حِمَارٌ يَرْكَبُهٗ. عَرْضُ مَا بَيْنَ اُذُنَيْهِ اَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا فَيَقُوْلُ
لِلنَّاسِ اَنَا رَبُّكُمْ وَهُوَ اَعْوَرُ. وَاِنَّ رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ لَيْسَ بِاَعْوَرَ. مَعَهٗ جِبَالٌ مِّنْ خُبْزٍ
وَالنَّاسُ فِيْ جُهْدٍ. اِلَّا مَنِ اتَّبَعَهٗ. وَمَعَهٗ نَهْرَانِ اَنَا اَعْلَمُ بِهِمَا مِنْهُ نَهْرٌ يَقُوْلُ الْجَنَّةُ وَ
نَهْرٌ يَقُوْلُ النَّارُ فَمَنْ اُدْخِلَ الَّذِيْ يُسَمِّيْهِ الْجَنَّةَ فَهُوَ فِي النَّارِ وَمَنْ اُدْخِلَ الَّذِيْ..
يُسَمِّيْهِ النَّارَ فَهُوَ فِي الْجَنَّةِ. وَتُبْعَثُ مَعَهٗ شَيَاطِيْنُ تُكَلِّمُ النَّاسَ فَتَقُوْلُ لِلنَّاسِ اَيُّهَا
النَّاسُ هَلْ يَفْعَلُ مِثْلَ هٰذَا اِلَّا الرَّبُّ»

څه تاسو د هغې دجال نه یره وُوم د کوم نه چه ټولو پيغمبرانو خپل قومونه
ويرولي دي. دے به څما د امت په زمانه کښي وي. زه درته د ده هغه نښه خيم.
چه يل پيغمبر نه ده خولے. دے به يوه سترګه قاڼينګ دے. او الله پاک قاڼينګ
نه دے. د ده په تندي به کافر ليکلے شوے وي. چه هر لوستونکے، نالوستونکے
به لوستے شي. د ده تابعدار به يهوديان، ښځے او بانډچيان وي. تاسو به
باران د آسمان نه وريدونکے وينئ او دے به نه وريږي. او ځمکه به شنه وينئ او
شنه به نه وي. دے به بانډچيانو ته وائي. ته څه غواړې؟ پرله پسے باران اوروي.

دجال به د بد دینۍ او بې عملۍ په وخت کښې راځي - د ده به غلولېښت ورځې جوړېدې وي - چه د ده لیوه ورځ به یو کال بله ورځ میاشت - بله ورځ به جمعه او نورې ورځې به ځمونږ د ورځو اُمره وي - د ده به په لیو خر سور وي چه د ده تندې به غلولېښت ښنګلې پلن وي - د ده به خلقو ته وائي چه زه ستا سو رب یم - او د ده به قاربینګ وي - او خدائې خو قاربینګ نه دې - د ده په تندې به کافر لیکلې شوې وي - هر څوک به ئې لوستې شي - او د ده به دابې د مکې مدینې نه چه په دروازو به ئې ملائکې وي، هر ځائې ته ورشي - د ده سخه به د غره همره لوډې وي - لوړ خلق به تنګ وي بې د ده د تابعدارو نه - د ده سخه به دوه نهرونه وي یو ته به جنت او بل ته به دوزخ وائي - خو د دې حال به اړولې وي -

او د ده تابعدار به داسې شیطانان وي چه خلقو ته به وائي - چه ده اوګورې دا کارونه خو صرف رب کولې شي - ځکه دجال رب دې - د دې شیطانانو په دې خبرو یقین کونکي به صرف بانډچیان وي - ځکه چه دې به د لنو ایجادونو نه خبر نه وي - او نه به دې هغه آلې پیژني په کومو چه دجال دا کارونه کوي - او دغه وجه ده چه دجال به په ښاریو کښې نه ګرځي - د ده به د بانډ دنیایانو ته ورځي - ځکه چه ښاریان خو به د مصنوعي بارانونو د حقیقت نه خبردار وي دا نهرونه به د ځان نه جوړ وي - دا به ئې په کاړوکښې په لنو آلاتو جمع کړيوي ځان سره به ئې ګرځوي - او خلق به اوږې وي - ډیره به ئې حاجت وي ځکه چه د دجال نه پخځه کاله مخکښې به قحط راغلې وي - باران به نه وي او دالوږې به په قحط کښې زیاتې په بانډوکښې په بانډچیانو راځي - د ده تابعدار به یهودیان وي - چه بې ایمانه او بې یقینه وي - او خزې به وي چه بې عمله وي - دا یهودیان خو به د دجال خپل قوم وي - لنو دې به دا غواړي چه د خپل لیږه نه خدائې جوړ کړي چه دې په لوئې شي -

یا ټې باران ورول او د نهرونو د ده سره ګرځیده - لنو دا به واقعي د ده سحر وي - یا دا به د جادو هسې عمله وي - چه په ظاهر کښې به داسې ښکاري او داسې به نه وي - د حدیث شارحینو دا دواړه خبرې کړې دي - ∴∵∴ ∵

خو لتش خیال او دیته جادو وئیل صحیح نه معلومیږي. ځکه چه لوړو احادیثو
کښي راغلي دي چه دده تابعدار به د دینه خوړي ښکي. د دې ښاروي به سار به
وي. د ډیرپي به کوي. مزکه به په ټینګو شنه شي. سره د دے چه تکلیف په
قحط کښي به وچه وه. او دا خبره په خدائے اسانه ده. اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ

(۱۱) دَ فلسطین یهودیان ۶۷۱

په دے کښي شک نشته چه دَا دجال به یهودي وي او دا یهودیان هره
ورځ د دجال د پیدا کیدو په انتظار کښي وي. او دا نن چه دوی کوم مالي
دولت، سره او سپین ورکړے شوے دی. دا دَ دجال د پیدا کیدو دپاره قسم
تیار دے. او په دجال د خلقو امتحان غرض دے. دا دَ فلسطین ننني
غالب یهودیان. دا په یورپ کښي دهر قسم مشیني کاریګرو فنونو استاذان یهودیان
دی. او دَ دې په ټولو ترقي یافته حکومتونو قرضے دي او د دې سره ئے کلک
تعلقات دي. نو هر کله چه دجال د دې امام پیدا شي نو د دے یهودیانو سخه به
هر قسم دَ خلقو ګمراه کولو ایجادونه، مشینونه، عجیبه عجیبه الات موجود وي. او
دي به د دجال د مخالفو خلقو سره جنګونه کولے شي. د دې سخه به د جنګ هر
قسم وسلے دَ سفر او ګرځیدو جهازونه وي. لاډي به وي. دَ مصنوعي باران
الات به وي. دَ اوبو او ډوډو، دَ اوړو لو او بخولو مشینونه به وي. کوم چه
نن ورځ هم په یورپ کښي موجود دی. او دَ جنګونو په وخت کښي دا استعمالیږي
نو د دجال نوځ به په هر قسم ضروریاتو پوره وي. تر دے چه دَ جادو ویخلو
مشینونه به ور سخه وي. چه به په دوه غلو ریئه کښي د ویخل کولے شي. غنم چه
مشین ته ورواچوي نو په یو ځائے کښي به اوړه شي. بل ځائے به چاڼ شي. بل ځائے
به واغږلے شي. بل ځائے به ډوډے پخے شي. او خه تیاره به دَ مشین نه راوځي
نو دا یهود و موجوده د جونو دَ ضروریاتو مشینونه به هم وي. او ورسره
به د دجال سخه جادو هم وي. چه په دے به د بانو چیانو جاهلانو او خزونا پوهانو
ګمراه کول کوي. الله دِ ستړ مونږ په امان اساتي





۶۷۱۶۷۱۶۷۱۶۷۱

(۱۲) د زمیدارئ او غوبل الات :-

طبرانی په کبیر کښ حدیث نقل کوی چه « لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی تَرْجِعُوْا حَرَّاثِیْنَ » قیامت به قائم نه شی ترڅو چه تا خو اکثر خلق کاشتکاران نه شی۔ هسے خو د دنیا د پیداکیدو نه کروندګر کرکروندے کړی۔ خو دا به په غوبالو، اوبیانو او خروکیدے شوه۔ د قیامت نه مخکښ به د مزکو اړولو او فصلونو ریبلو او غوبلو دا سے مشینونه پیدا شی چه یوکس به د مخکنو لس څلو زیاته مزکه کرلے شی۔ او غیر اباده به جوړه ولے شی۔ او دا سے روپے پیداکونکے غلے دانے سبزی او د تیلو تخمونه به پیدا شی چه په دے کښ به د تجارت نه زیاته فائده وی۔ ځکه سوداګر به سوداګیری پریږدی۔ او مزکے به واخلی۔ او که مزکے په بیځه نه موی نو اجارے به اوکړی۔ او کروندے به د اکثرو خلقو د جوند کار اوګرځی۔ دیته خوږ نبی صلّی اللّٰه علیه وسلم په دے حدیث کښ اشاره کوی چه د خدائے لوئے نازولے نبیؑ دے د غه دے تا خو دا حالت وینځ چه اکثر خلق کاشتکاران شو۔

(۱۳) د کیمرو او تصویرونو مخکښ وینا :-

ابونعیم په حلیه کښ د حذیفه روایت بیا نوی چه « مِنْ اِقْتِرَابِ السَّاعَةِ اِثْنَتَانِ وَسَبْعُوْنَ خَصْلَةً حُلِّيَتِ الْمَصَاحِفُ وَصُوِّرَتِ الْمَسَاجِدُ وَطُوِّلَتِ الْمَنَائِرُ » د قیامت د نږدے کیدو دوه اویا نښے دی۔ د قرانونو جلدونه به د سرو زرو په اوبو ولیان کړے شی۔ او د جماتونو تصویرونه به اوځکے شی۔ او ډیر دنګے منارے به جوړے کړے شی۔ په دیکښ کیمرو ته اشاره ده چه په دے به د جماتونو تصویرونه راغښتے شی۔ خاصکر د مکے معظمے او مدینے منورے تصویرونه خو تا خو به کورونو او حجرو کښ وینئ۔ په دے تصویرونو کښ د جماعتونو او د غسے نور د یادګاری ځایونو منارے وینئ۔ او لویه لویه خلقو سخت ډیر ډولیان په سرو زرو جلد قرانونه د تبرک دپاره وی۔ او دا لوپه خلقو ته خلق په څخو کښ ردکوی۔ او دلته د دے نه د قران محبت او خدمت وائی۔ خو به ته ئیه ---

(۱۴) د سرکونو د پاره د جماتونو غورزول :-

خوږ نبي صلی الله علیه وسلم وائي « لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَكُوْنَ السَّلَامُ عَلَى الْمَعْرِفَةِ وَحَتّٰى تَتَّخِذَ الْمَسَاجِدُ طُرُقًا فَلَا يَسْجُدُ لِلّٰهِ فِيْهَا » قیامت به قائم نه شي ترڅو چه سلام به یوائځې واقف ته کوي ۔ او جماتونه به د سرکونو ارتولو د پاره اُغورزولے شي او بیا به پکښې مونځ نه کیږي.

د ښار که د ړولی جوړولو او د تلو راتلو د اسانولو د پاره به په ښارونو کښې سرکونه ارتولے شي ۔ د دے د پاره به کوم وخت چه د سرک ارتوالے پر راځي او که جمات وي دا به هم غورزولے شي ۔ او بیا د غلته به نه کوم وي او نه جمات ۔ ګویا د خدائے د خانے عزت به دومره نه وي ۔ څومره به چه د ښار د ړولی والی خیال وي :-
نو به د ښه وله به نه قیامت کیږي ۔ یوخوا جماتونه د مانځګو نه خالی شو ۔ بل خوا د دے غورزول هم ګناه نه شي ګڼړلے (توبه توبه)

(۱۵) دوربینونو طرف ته اشاره :-

طبراني د انس رضی پر روایت کښې لیکي چه « مِنْ اِقْتِرَابِ السَّاعَةِ اَنْ يُّرَى الْهِلَالُ فَيُقَالُ لَيْلَتَيْنِ وَاَنْ يَّظْهَرَ مَوْتُ الْفُجَاءَةِ » قیامت ته نزدے به خلق د ړومبے شپے میاشت او وینی او وائي به چه دا خو د دوو شپو ده ۔ او ناساپه به مرګونه شروع شي »
په بل روایت کښې دي « مِنْ اِشْرَاطِ السَّاعَةِ اِنْتِفَاخُ الْاَهِلَّةِ » د قیامت نښه دا ده چه سپوږمۍ به اُوبړ سیکي ۔ دا به د دوربین په ذریعه غټه ښکاره شي ۔ نور کله چه دوربین نه وو ۔ نو د سپوږمۍ په ړومبۍ ورځ لیده کله کیدے شو ۔ وله اوس په دوربین لیدے شي ۔ او دومره غټه ښکاره شي ۔ چه لیدونکی وائي چه دا خو د دوو شپو ده ۔ حال دا دے چه دا د ړومبۍ شپے وي ۔ او په بل روایت کښې « اِنْتِفَاجُ » دے ۔ د دے معنی دا ده چه دنیا ښتے لیدو خبرو به یوخوا بل خوا زغلي ۔ یعنی په ټیلفون او ریډیو به د دے لیدو خبر به ملکونو کښې خور شي ۔ نو یو خوا ستورو لیدونکو مشینونو ته اشاره شوه ۔ او بل به د دے خبرونه خواره شي :- (۱۶) د سیاهۍ قلم ته اشاره :-

احمد د ابن مسعود په روایت د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم فرمان نقل کوي۔ چه
"اِنَّ مِنْ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ اَنْ یَّظْهَرَ الْقَلَمُ"۔ د قیامت په شرطونو کښ دا خبره ده۔
چه قلم به ظاهر شي" د دې معنی دا کیږي شي۔ چه هر خوک به لیکل زده
کړي۔ خو دا لیکل خوږ نبي صلی الله علیه وسلم ته په نزدې زمانه کښ د بني عباسو
په حکومت کښ عام شوې وو۔ او قیامت ته نزدې خلق به د ډیرې مالدارۍ
په وجه په جیبونو کښ قلمونه کیږدي۔ گویا قلمونه به ښکاره شي۔ دا تشریح نے
سند معلومیږي۔

(۱۷) بنکونو طرف ته اشاره :—

ابوداؤد د ابو هریره حدیث نقل کوي چه "لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا
يَبْقَىٰ مِنْهُمْ اَحَدٌ اِلَّا اٰكِلُ الرِّبَا"۔ په عامو خلقو به داسې زمانه راشي۔ چه هیڅ خوک
به د سود خوړونه پاتې نه شي (هر خوک به سود خوري)
تاخو ټولې معاملې د سوداگر، د زمیندارا او د ملازم وینئ۔ چه ټولې پیسې بنکونو
ته ځي او راځي۔ د سوداگر و خرڅ و فروخت د بنکونو په ذریعه دې۔ او د حکومت
نوکران، امامان، خطیبان او بانگیان د بنکونو نه خپلې تنخواگانې اخلي۔ نو حلال
مال د دنیا نه ورک شو۔ او هیڅ خوک د سود خورۍ نه بچ نه شو۔ حلالې رزق
فائده ورکوي علم او خدائې ته رور پاتې نه شه کښ تا خو ورته فکر اوکړئ۔ چه
داسې ده او که نه ده۔

(۱۸) لوئې آبادۍ او ارت سرکونه :—

د قرآن آیت دې چه "حَتّٰى اِذَا اَخَذَتِ الْاَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ اَهْلُهَا اَنَّهُمْ قَادِرُوْنَ
عَلَيْهَا اَتَاهَا اَمْرُنَا لَيْلًا اَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيْدًا كَاَنْ لَّمْ تَغْنَ بِالْاَمْسِ"
ترڅو چه مزکه به آباده شي۔ او په دنیا کانو به ډولي او ښائسته شي۔ او ددې
مالکان به دا ګڼي چه مونږ خو په دې قدرت لرو۔ په دې به څمونږ عذاب راشي
د شپې یا د ورځې او دا مزکه به میده بوس شي۔ لکه چه په دیکښ هډو څکښ خوک
اوسیدلي نه وو۔
او په بخاري کښ د ابو هریره روایت دې چه "لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يُقْبَضَ الْعِلْمُ

وَيَكْثُرُ الزَّلَازِلُ وَيَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتّٰى يَتَطَاوَلُ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ»، قيامت به هله قائمیګي چه د دین علم به پورته شي، زلزلے به ډیرے شي، زمانه به لنډه شي، فتنے به ډیرے شي او خلق به په دنګو پخو اباد و لوبئ کوي. او د میمونے بي بي نه طبراني نقل کوي. چه خوږ نبي صلى الله عليه وسلم مونږ ته اووے چه «مَا اَنْتُمْ اِذَا مَرَجَ الدِّيْنُ وَسُفِكَ الدِّمَاءُ وَظَهَرَتِ الزِّيْنَةُ وَشُرِفَ الْبُنْيَانُ» ستاسو به څه حال وي چه دين به خلق پريږدي. د خلقو وينے به بهولے شي. ډول ډال به زيات شي او ابادئ به دنګے شي.

نن ورځے دا لوے لوے ملبه نګوته او ارت سړکونه او غټ بلډونه اونړ ګاني تاخو وينۍ. دا د قيامت نخے دي. الله تعالیٰ دے رحم اوکړي. خوږ نبي صلى الله عليه وسلم د عربو په شنګو کښ چه د سړک او آبادي پکښ نوم نه وُو. دا ګڼښن وينا کوي؛ څه لوے پيغمبر وُو. وَصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ اَلْفَ اَلْفَ مَرَّةٍ

(۱۹) عجيبے او نا اشنا مرضونه.

حاکم په صحیح سند سره د عبد الله ابن عمر ابن العاص روايت نقل کوي -- «وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَظْهَرُ الْفُحْشُ وَالتَّفَحُّشُ وَسُوْءُ الْجِوَارِ وَقَطِيْعَةُ الْاَرْحَامِ وَحَتّٰى يَخُوْنُ الدِّيْنُ وَيَظْهَرُ فِيْهِمُ الطَّاعُوْنُ وَالْاَوْجَاعُ الَّتِيْ لَمْ تَكُنْ فِيْ اَخْلَافِهِمْ»

«محمد په خدائے قسم وي چه څکاره زناکاني به شروع شي او ګاونډي به ناکاره شي. خپلولي به پاتے نه شي. او په امانت کښ به خيانت شروع شي. نو طاعون او داسے دردونه به شروع شي چه چا به ئے ګڼښ نوم نه وي اوريدلے. نو قيامت به قائم شي»

تاخو هسپتالونه په زرګونو مريضان او مرضونه وينۍ. دا الله تعالیٰ قسم قسم بے حيائيو په وجه نازل

(۲۰) د خرو سرکښي:-

د خوږ نبي صلى الله عليه وسلم فرمان دے «كَيْفَ بِكُمْ اِذَا فَسَقَ شَبَابُكُمْ وَطَغَتْ نِسَاءُكُمْ وَكَثُرَ جُهَّالُكُمْ». ستاسو به څه حال وي چه ستاسو ځوانان به بدکاران شي. او ښځے به مو سرکښه شي او جاهلان به مو ډير شي.

دغه دے تاسو وینئ چه خزے وزیرانے، سفیرانے جوړیدل غواړی ۔ دا دے دپاره مظاهرے کوی ۔ او هغه خبرے غواړی چه هغه د شریعت نه خلاف وی، غودی د خواهش برابر وی ۔ د موجوده زمانے د ممالکو حالات اُوګورئ ۔ چه د خوږ نبی صلی اللہ علیہ وسلم څکنبی وینا در ته معلوم شی ۔ په ځوانانو کښ بے دینی او دغولو د بیټولو اذکار چه بنجریت ور ته دائی عام لیدے شی ۔ او دا فرمان نبوی چه « صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ أَحَدُ هُمَا نِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُؤُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ »، دوه قسمه دوزخیان دی یو پکښ خزے دی چه جامے به اغوستے وی خو نوئ به وی ۔ نو به بنئے به وی ۔ خلقو ته به دا سے لیدلو کاته عام کوی چه یو بل ته به مائل کیږی ۔ په سرونو به ئے د اُوښانو د کوهانونو هسے دنګے تو پے وی ۔ « الْعَنُوهُنَّ فَإِنَّهُنَّ مَلْعُونَاتٌ » والعنتی خزے ئے ځه د دِے په تفصیل بدی منبکارم ۔ تاخو د ملکو نو سفر اوکړئ نو تاخو ته به معلوم شی ۔ چه خوږ نبی خومره ولیشتیا وئیلی دی ۔ وَصَلَّی اللّٰه علیه الف الف مرة ط.

(۲۱) په سرکونو د پولیس تقرر :-

طبرانی په کبیر کښ روایت کوی چه « أَخَافُ عَلَيْكُمْ إِمَارَةَ السُّفَهَاءِ، وَكَثْرَةَ الشُّرَطِ »، ځه په تاخو د دینه یریږم چه په تاسو به بے وقوفان امیران شی او پولیس به ډیر شی ۔ او وړپسے دی چه « قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ »، دِے پولیس د سپایانو سخه به دغویانو د لکئ هسے کروړے دی ۔ چه په دے به خلق وهی ۔ او ودی خوئ ئے په بل روایت کښ داسے بیان کړیدے ۔ چه « يَغْدُونَ فِي سَخَطِ اللّٰهِ وَيَرُوحُونَ فِي غَضَبِهٖ »، سحر ارمانبنام به تارنیولے ګرځی ۔ د هر ملک د پولیس سره چه د چا واسطه پریوتے وی ۔ نو هغه به د خوږ نبی دا فرمان بالکل صحیح منی ۔ خلئے د د دی خو لیو نه سخه کړی ۔ آمین ۔ وصلی اللّٰه علیه وسلم :،،

(۲۲) ډیرے پاچاهئ او ډیر امیران :-

خوږ نبی صلی اللّٰه علیه وسلم د دے فتنے په باره کښ فرمان کړیدے چه د مسلمانانو پاچاهئ به ګینړے شی ۔ او دهرے پاچاهئ به جُدا جُدا امیری وی ۔ ۔ نو دعربو یوے جزیرے ته اُوګورئ او دِدی امیرانو ته اوګورئ ۔ حجاز، کویت، بحرین

یمن، حضرموت، عراق، شرق اردن، لبنان وغیره - او خمو بۀ پاکستان او ددی
دلو او لیښلانو ته هم نام اوکړے - او دا تقسیم روس او امریکے پیدا کړ - چه
خوک ډیو پړه دی او خوک دبل - او خوږ نبی صلی الله علیه وسلم د دے ډیر
والی سبب ښکاره کوی - چه "اِذَا کَثُرَ قُرَّاءُکُمْ وَقَلَّتْ عُلَمَاءُکُمْ وَکَثُرَتْ اُمَرَاءُکُمْ
وَقَلَّتْ اُمَنَاءُکُمْ وَالْتُمِسَتِ الدُّنْیَا بِعَمَلِ الْاٰخِرَةِ" چه قاریان به ډیر شی او عالمان
باعمله به کم شی - امیران به ډیر شی او امانتګر به کم شی - او دنیا به د اخرت
په عمل ګټلے شی "

په دے ډیر هم د دے کتابچے کتونکی پخپله فکر اوکړی - چه آیا نن ورځے دا
حالت دے او کنه - زه ئے په تفصیل کښې نه ځم - څوک به خفه شی.

(۲۳) د کیرو خریلو په باره کښې :-

"یَخْرُجُ قَوْمٌ فِی اٰخِرِ الزَّمَانِ یَقْرَءُوْنَ الْقُرْاٰنَ لَا یُجَاوِزُ تَرَاقِیَهُمْ سِیْمَاهُمُ التَّحْلِیْقُ"
په آخره زمانے کښې به داسے قوم پیدا شی چه قران به لولی خو د مرے نه خکته
به ئے نه ځی - او د دی نخه کیره خرئیل به دی - د دے تفصیل ته هم حاجت نشته
ډیر ښه موځ کوتکی د دین علم لرونکی د کیرے نه خالی دی - یا هسے د نوم د
باره ئے د ټبلے لکئ جوړه کړے دی.

(۲۴) د خوږ نبی د سنتو نه انکار :-

په ابو داؤد او ابن ماجه کښې د مقدام بن معدیکرب په روایت د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم
فرمان دے - چه "اَلَا اِنِّیْ اُوْتِیْتُ الْقُرْاٰنَ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ اَلَا یُوْشِکُ رَجُلٌ شَبْعَانُ
عَلٰی اَرِیْکَتِهٖ یَقُوْلُ عَلَیْکُمْ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ فَمَا وَجَدْتُّمْ فِیْهِ مِنْ حَلَالٍ فَاَحِلُّوْهُ وَمَا وَجَدْتُّمْ
فِیْهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوْهُ اَلَا وَاِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ مِثْلُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ" خبردار شئ
ما ته قران او د دے مثل راکړے شوے دے - نزدے ده چه یو موړ غټ کټ
په تکیه تکیه لګونکی به پیدا شی هغه به وائی چه لبس د قران حلال حلال منئ
او د هغه حرام حرام منئ - او خبردار شئ چه د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم حرام هم د الله د
حرام هسے دی" د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم سنت د شریعت بیان کوی -
په سنت نبوی کښې د شریعت عملی ثبوت دی - خو خلق داسے شته چه هغوی وائی

دا موجودہ ټول احادیث دځانه جوړ دی . او که صحیح چرته وی نو هغه صرف
څلور دی - او څوک وائی چه د بخاری شریف ټول احادیث دروغ دی - او څوک
وائی دا خو ګمانی خبرے دی - او په اصحابو پورے ټوقے کوی - دا هغه
منکرین حدیث دی - چه خوږ نبی صلی الله علیه وسلم ورته اشاره کړیده - دا
منکرین تن هر ځائے موندے شی - او دی په اصل کښ ځان ته د خپل ...
خواهش دین جوړول غواړی - که یوازے د قران په عمل انسانیت جوړیدے
شوے . نو د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم د عمل د تابعدارئ حکم به ولے
کیدے شو - قران علم او احادیث عملی نمونه ده - او د دوے اخر به دا وی چه
هلکه په کلمه طیبه کښ محمد رسول الله ته هغه حاجت دے - الله کافی دے
کنه - او بیا به وائی چه مونږ څپله په خپل خیر وشر پو یه یو - دے الله
ته یکښ هغه حاجت دے -

(۲۵) د امام مهدی د پیدا کیدو نه انکار -

عیسایانو دا خبره په مسلمانانو کښ خوره کړیده چه د عیسی علیه السلام
دین به په ټوله دنیا کښ خور شی - او خلق به ټول عیسایان شی - ځکه دی
د امام مهدی او د هغه د صلیب د ماتولو نه منکر دی - او دوی په تابعدارئ
کښ څمونږ نادانان هم د امام مهدی نه انکار کوی - خوږ نبی علیه السلام
د دے په باره کښ تحقیق دینا کړیده - چه « لَا يَخْرُجُ الْمَهْدِيُّ حَتّٰى يُقَالَ
لَا مَهْدِيَّ » امام مهدی به په دا سے حالت کښ پیدا شی - چه خلق به د
ده د پیدا کیدو نه انکار کوی - او دغه وجه ده چه د دے نه لګیا نو د خوشحالو
د باره د عیسی د نزول نه هم هغه خلق انکار کوی - ځکه قادیانی جماعت تاڅو
ویلی او دغه جماعت چه صرف دیته یهودیانو په فلسطین کښ د تبلیغ اجازت
ورکړے دے - او دا په دے وجه چه دی په پاکستان کښ د یهودیانو سازشو نه
خوارہ کړی - ځکه چه دی خردوی -

(۲۶) د دجال نه انکار :-

دغسے واعظانو په ممبرونو او لیکونکو په کتابونو کښ د دجال ذکر پریښے دے .

احمد دا حدیث روایت کوی چه "لَا یَخْرُجُ الدَّجَّالُ حَتّٰی یَذْهَلَ النَّاسُ عَنْ ذِکْرِهٖ وَحَتّٰی تَتْرُکَ الْاَئِمَّةُ ذِکْرَهٗ عَلَی الْمَنَابِرِ" دجال به داسے حالت کښې پیدا شی چه خلق به دے هیر کړی او عالمان به په ممبرونو د ده ذکر پرېږدی.

(۲۷) د عامو مسلمانانو حالت :-

خوږ نبی علیه السلام وائی چه "سَیَأْتِیْ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ یُصَلِّیْ فِی الْمَسْجِدِ مِنْهُمْ اَلْفُ رَجُلٍ اَوْ زِیَادَةٌ لَا یَکُوْنُ فِیْهِ مُؤْمِنٌ" په خلقو به داسے زمانه راشی چه په جماعت کښې به زرتند یا زیات مونځ کوی. او یو تن به پکښې هم مومن نه وی. او بل حدیث دے چه "یُؤَذِّنُ الْمُؤَذِّنُ وَیُقِیْمُ الصَّلٰوةَ قَوْمٌ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِیْنَ" بانګونه او مونځونه به کیږی او وی به مومنان نه وی. او نه وخوږ نبی صلی الله علیه وسلم وائی "اِنَّ النَّاسَ دَخَلُوْا فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا وَسَیَخْرُجُوْنَ مِنْهُ اَفْوَاجًا" چه خلق ډلے ډلے په اسلام کښې داخل شوے دی. او نزدے ده چه ډلے ډلے به تړه اوځی".

او د دے لوے سبب دا دے چه د دُنیا د ګټو د پاره به دین خرسوی د خلقو زړونه به داسے مړه شی. لکه وجود چه مړ کیږی. ځکه خوږ نبی صلی الله علیه وسلم د دے قسم زمانے ډیر عزت منده خیزونه د دے خولی شویدی. د خدائے د پاره روږی کول، حلالے روپۍ خوړل او په سنت د نبی ﷺ باندے عمل کول

د انس بن مالک حدیث دے چه "لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ تَمْنَعُ مِنْ سَخَطِ اللّٰهِ مَا لَمْ یُؤْثِرُوْا صَفْقَةَ دُنْیَاهُمْ عَلٰی دِیْنِهِمْ فَاِنْ فَعَلُوْا ذَالِکَ ثُمَّ قَالُوْا لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ اللّٰهُ کَذَبْتُمْ د توحید کلمه ویونکی بنده د خدائے د قهر نه بچ کوی. خو چه د دے دُنیا د دین نه زیاته خوښه کړی. سره د دے بیا کلمه وائی نو خدائے به ده ته وائی چه ته دروغ وائے.

خوږ نبی صلی الله علیه وسلم وائی چه قیامت نزدے شی نو بدکاران به لویه مرتبو ته اورسی. او نیکان به خوار و زار شی. تقریرونه به ډیر شی او عمل به نه وی".

د ابن عباس روایت دے چه "سَیَجِیْءُ فِیْ آخِرِ الزَّمَانِ اَقْوَامٌ تَکُوْنُ وُجُوْهُهُمْ وُجُوْهَ الْاٰدَمِیِّیْنَ وَقُلُوْبُهُمْ قُلُوْبَ الشَّیَاطِیْنِ اَمْثَالَ الذِّئَابِ الضَّوَارِیْ لَیْسَ فِیْ قُلُوْبِهِمْ

شَیْءٌ مِنَ الْیَ حُمْرٍ،، په آخره زمانه کښې به داسې قومونه پیدا شي چه څوند به ئې د بنی آدمو هسې دي او زړونه به ئې د شیطانانو هسې وي. دې به د شلیدلو شرمخانو هسې وي د دې په زړه کښې به رحم نه وي.

او دغه وجه به وي چه د خوږ نبي ع دِ دیدار به په خوب کښې د بیرطاهر نیکان هم نه شي کولې. ازرقي حدیث نقل کوي چه «اَوَّلُ مَا یُرْفَعُ الرُّکْنُ، وَالْقُرْاٰنُ وَرُءْیَا النَّبِیِّ صلی الله علیه وسلم»، قیامت ته نژدې به د کابِ اسلامي قران شریف او د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم لیدل به په خوب کښې ختم شي،،

(۲۴) ترخزي اوخزوني :—

ابونعیم د حُذیفه په روایت لیکي چه خوږ نبي ع وايي «مِنْ اِقْتِرَابِ السَّاعَةِ وو تَشَبُّهُ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالنِّسَاءِ بِالرِّجَالِ» د قیامت د نژدې کیدو نخه داده چه سړي به د خزو هسې ځان جوړه وي. او خزې به د سړو هسې ځان ګرځوي. د غه دِ تاسو وینئ چه د سړي او د خزې فرق خدائ په فطرتي طور سره په ګیره کړیدې. چه دا د سړو کیږي او د خزو نه کیږي. خو ځمونږ ځوانان تردې چه بوډاګان هم هره سحر ګیره خریئ. او د سړو بخته په هغه رنګ پریکوي کوم چه د فرنګیانو عادت دې. او په دې لکه د خزو عطر لګوي. او د کور ته هله راځي چه شیو اُوکړي. او استري شوې جامې واغوندي. بوټان پالش کړي. په ډاس پانو لکه د خزو د سرو زرو د بنګړو هسې ګړۍ واچوي. ته به وائې کنګڼړې واچو او ځان ته په شیشه کښې بار بار اوګوري. نو په قینچ قینچ باهر را اوځي. او په دې کارو بېرقیمتي وخت خراب کړي. او ځه زنانه غوندې شي. او د غسې خزې د سړو هسې تنګې ترشې نرې پړې په قمیص ونکې جامې واغوندي. ننګې بوټان په خپو کړي. د سینې هغه خاص اندامونه ئې په قمیص کښې بوټه راوته وي. د فترونو دکانونو بازارونو ته را اوځي. په سیاسیاتو او مظاهرو کښې په سټیجونو پوره برخه اُوداګئي. او د سړو د ظلمونو قیصې شروع کړي. په دنیا کښې چه دا قسم بدلي راشي. نو دا قیامت نه دې لرخه نږدې. داخدائ د کوم ملکه کړلیږه، دا په دغه صبو نکوي او ځان نه ورته نیله او مهبوطجوړه وي.

ولے پہ حمل او د بچو د پیو پہ ورکولو کښې بیا پوخته اوکړه پوند وی -
ډیوتي ترې پاتے شي ـ نو دے پہ دل ډال او بے ځایہ خرخولو لیواځے بہ دېنې
پیدا نہ کړه بلکہ لوږه ، تندره ، غلاګانے ، اُجرتي قتلونه هم پہ دیوچه پیدا
شو ـ تر دے چہ خوږ نبي صلی اللہ علیہ وسلم وائي - دا خلق چہ پہ قبرونو
.. ورشي ـ نو دی بہ وائي چہ ارمان دے زه پہ دے قبر کښې نخ وے اوجوندے
نہ کړځیدے ـ او عالمي جنګونه بہ شروع شي ـ چہ بے شماره مرګونه بہ پکښې
کیګي ـ دا د فوځونو نوکری او پہ دے سورانګار کښې ورننوا تہ صرف د دغے
لوږے پہ وجہ کیګي ـ تاسو د سنہ ۱۹۱۴ء جنګ بیا د سنہ ۱۹۳۹ء جنګ او لا د دریم
عالمي جنګ تیاری تہ لګ اوګورئ - چہ امریکہ پہ خپل لکھ والی کښې تنګه ده
نور ملک کټل غواړی ـ او روس پہ خپل حال فکرمند دے لا نور ہم زیاتوی.
او د دی فوځونہ ځان تہ ادم خواره دی . دې پہ خپلہ خو سنہ او خرمجبری
بهرتي پہ زرګونو لکھونو تباه کیګي ـ دیتہ خوږ نبي ﷺ "هرج" فرمائیلے دے ـ
اَعاذنا اللہ منہا د غه د دویت کانګ جنګ د پنځلسو کالونہ ښځے دے او خلاصیګی نہ ـ د خوږ
نبي ﷺ یو جامع حدیث لیکم "اِذَا اتُّخِذَ الْفَيْءُ دُوَلًا وَالْاَمَانَةُ مَغْنَمًا وَالزَّكٰوةُ مَغْرَمًا وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ
الدِّيْنِ وَاَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَاَتَهٗ وَعَقَّ اُمَّهٗ وَاَقْصٰى اَبَاهُ وَظَهَرَتِ الْاَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ
وَسَادَ الْقَبِيْلَةَ فَاسِقُهُمْ وَكَانَ زَعِيْمُ الْقَوْمِ اَرْذَلَهُمْ وَاُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهٖ وَظَهَرَتِ
الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الْخُمُوْرُ وَلَعَنَ اٰخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَوَّلَهَا فَارْتَقِبُوْا رِيْحًا حَمْرَاءَ
وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَاٰيَاتٍ تَتَابَعُ وَتَفَقُّهٌ فِي الدِّيْنِ لِغَيْرِ اللهِ (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)
چہ خلق د غنیمت مال ځان تہ دولت کوی ـ او امانت غنیمت اوګنړی ـ او زکوة تاوان
اوګنړی . او د بے دینۍ علم حاصلوی ـ او سړی د ښځو تابع شي . او د مور و پلار نافرماني
شروع شي ـ او پہ جماتونو کښې چغے سورے وهلے شي ـ او د قبیلے او قوم مشر بد دینہ
سړے جوړ شي ـ او د یو سړي عزت ددہ د شر نہ بچ کیدو پہ وجہ کیګي ـ او ډمګۍ باجے
سرندے پہ جار وهی شراب څکلے عام شي ـ او د اوروستی خلق د مخکنو نیکانو بد وائي ـ
نو تاسو د سور رنګہ سیلے ، زلزلو د مزکے چاودو او شکلونو بدلیدو انتظار اوکړے.
او دا هم روایت دے چہ پہ دین کښې تحقیق د دنیاګټو دپاره شروع شي ـ دا تِرمذي حدیث دے

او خوږ نبي ص فرمائي "سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا رَسْمُهُ وَلَا مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ يُسَمَّوْنَ بِهِ وَهُمْ أَبْعَدُ النَّاسِ مِنْهُ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدَى فُقَهَاءُ ذَالِكَ الزَّمَانِ شَرُّ فُقَهَاءَ تَحْتَ ظِلِّ السَّمَاءِ مِنْهُمْ خَرَجَتِ الْفِتْنَةُ وَإِلَيْهِمْ تَعُودُ" نږدې ده چه په خلقو به داسې زمانه راشي چه د قران به نقش نیک پاتې شي. او د اسلام به نوم فقد پاتې شي. دې به ځان ته مسلمانان وائي او دې به د اسلام نه ډير لرې وي. جماتونه به يې خپه خدآباد وي خو د هدايت نه به خالي وي. د دې زمانې عالمان به د اسمان لاندې ناکاره مخلوق وي. د دوئ نه به فتنې پيدا کيږي. او دوئ ته به ګرځي". په دې کښې هغه علماء داخل دي چه لکه د اکبر بادشاه دين الهي نه د خدائې دين خوونکي وو. يا د هغه زورور خبره د دين کمزوونکي شو ګويا که غټ مالداران د غريبانو استحصال کوي. چه د دې مناسب مزدوري نه ورکوي. نو غوښې دا د دين عالمان د ناروا خبرو د پاره د دې دين پرتولي جوړ وي. او د دوئ مال يا عزت حاصلوي. نو دې آئين جوړونه خلقو خوشحالئ ګټي. خو که د قران حديث عالمان د قران حديث احکام د پيسو تکوا ومرتبو د پاره مسخ کوي او د دوئ زورتو کې جوړولې شي نو تاخو به د هغه خلقو سره څه کوي. چه د دې آئين په ادلو بدلو کښ خپل مهارت ښکاره کوي. په دې قاتل خلاصوي. دا آئين کتاب څنګه د هغه نه شي بدلولې خدائې د ځمونږ د ذهن د بدلئ اسباب پيدا کړې. چه هغه په آخرت او حساب کتاب پوخ يقين وي. چه دا يقين راشي نو بيا به قران او آئين د کار کتابونه او ګرځي. خدائې دې د دا يقين ځمونږ نصيب کړي. آمين. تو به د رب چه دې به خدائې ته څه جواب ورکوي.

هم د دې قسم عالمانو په باره کښ د خوږ نبي ص فرمان دې دا چې روايت دې "يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ عُبَّادٌ جُهَّالٌ وَقُرَّاءٌ فَسَقَةٌ وَهُمْ أَنْتَنُ مِنْ جِيفَةِ حِمَارٍ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَالِكَ الزَّمَانَ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ" په آخره زمانه کښ به عبادت کوونکي جاهلان او قاريان به فاسقان وي. او دې به د مردار خرنه زيات بدبويه وي. خو که چه دا زمانه بيا مومي نو د خدائ نه په پناه کښ د شيطان نه تلي شوي ته راشي. ځمونږ نوي تعليم يافته د دانه وائي چه داسې پوازې مليان دي. دا په تحريک کښ د ملکي قانون اهم نفتي آئين مسخ کوونکي وکيلان هم په دې کښې ... داخل دي. ځکه چه دوئ ته زيات ضرورت وي. او دې په د پېسو لو د يې اخلي. د هغوئ مانډا ملاتړ نه کوي.

(۳۵) قرآن به زړه جامه شي:—

لَا تَذْهَبُ الْاَيَّامُ وَاللَّيَالِي حَتّٰى يَخْلَقَ الْقُرْاٰنُ فِيْ صُدُوْرِ اَقْوَامٍ مِنْ هٰذِهِ الْاُمَّةِ كَمَا تَخْلَقُ الثِّيَابُ وَ يَكُوْنُ مَاسِوَاهُ اَعْجَبُ اِلَيْهِمْ ۔ دوځ شپې به تیریګي تردې چه قرآن به د دې اُمت په زړونو کښې داسې زوړ شي لکه زړه جامه او دیته به د قران نه علاوه د بنی ادمو موجوده کتابونه خالسته معلومیګي .

د قران حدیث نه علاوه کتابونه نن ځمونږ په دارالعلوم ونو کښې ډیر عمرلولے شي . او هسے د نوم د پاره د احادیثو دوره په کال کښې کیګي . او صرف جلالین او بیضاوي څه حصه ځمونږ د قران حدیث نه تبرک حاصلولو د پاره وي . خلق د منطق فلسفې نحوی صرفی په نوم خوشحالیږي . او د قران حدیث نه بے خبری ورته بده نه ښکاري . داهغه د قران د زوروالی مطلب دے . یقیني کتاب پریخودے شو او ګمانی تصنیفات د ښل یا نوجوړ کتابونه ځمونږ خوږ شو . او دادیته ئے اوګوري چه د ي د قران حدیث مخالفت مخکښې کوي . او قران حدیث پریګدي د خیل پیر فقیر صنی . او د خدائے کتاب او رسول نه مني تو بد دے . د قران درس وتدریس عالکښې لے شي خوږ نبي وائي " اَلْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ وَمَاسِوٰى فَذَالِكَ فَهُوَ فَضْلٌ اٰيَةٌ مُحْكَمَةٌ او سُنَّةٌ قَائِمَةٌ اَوْ فَرِيْضَةٌ عَادِلَةٌ " علمونه درے دي او دے نه سوا زیاتیګړے خیر دے . د قران ایتونه او د خوږ نبي کلک سنت او د خدائے فرض . امام شافعي وائي " اَلْكِتَابُ اَحْوَجُ اِلَى السُّنَّةِ " قران په خپل تفصیل کښې سنت ته محتاج دے . سنت د قران عملی تفسیر دے . امام شافعي وائي شعر :-

اَلْعِلْمُ مَاكَانَ فِيْهِ قَالَ حَدَّثَنَا وَمَاسِوٰى ذَالِكَ وِسْوَاسُ الشَّيَاطِيْنِ " علم خو هغه دے چه د خوږ نبي نه روایت شوي وي . د دې نه سوا خو شیطاني وسوسے دي .

۲۷، د قران عالمانو دعزت

د خوږ نبي نه معاذ حدیث دے " اِذَا ظَهَرَتْ فِيْكُمُ السَّكْرَتَانِ سَكْرَةُ الْجَهْلِ وَسَكْرَةُ حُبِّ الْعَيْشِ وَجَاهَدُوْا فِيْ غَيْرِ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَالْقَائِمُوْنَ يَوْمَئِذٍ بِكِتَابِ اللّٰهِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً كَالسَّابِقِيْنَ الْاَوَّلِيْنَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ " چه په خلقو دوه نشے سور شي . یو د دین نه د بے خبرۍ او د دنیا د جوند محبت او ټول کوشش ئے غیر خدائي وي . نو به دے وخت کښې چه خوک د خدائے په قران پوهیږي او ښکاره کلک وي دې به د مخکنو مهاجرو او انصارو په شان وي . شکر دے د خدائے نه ډیر خوشحاله یم که خدائے ته منظور شي چه ما خپل ځان د خپل والد بزرګوار مرحوم علامه شیخ التفسیر والحدیث مولانا محمود الحسن صاحب په هدایت د قران او حدیث او د هغې علم خوښ کړو په خپل وس پیر د ما خپل ټول طاقت ونه د دې په کښلو، لوستلو او په اخر کښې د تفسیر حبیبي په چهاپ کولو او د بخاری شریف د تشریح په خود ولو اکیو . او ورسره د خپل محبوب تبلیغي جماعت تبلیغي نصاب او نور کتابونه لیکلي تو کړه . او دا م چهاپ کړه . چه په دے زمانه کښې او د اردو نه پوهیدو نکو ته فائده اورسي .

دا کتاب چه د فائدے دپاره لوئے علامه احمد بن محمد بن الصدیق الغماري الحسني د هغے کتاب خلاصه ده چه نوم " مُطَابَقَةُ الْاِخْتِرَاعَاتِ الْعَصْرِيَّةِ لِمَا اَخْبَرَ بِهِ سَيِّدُ الْبَرِيَّةِ " دے . دا کتاب د نن زمانے د مغربي تعلیم یافته ورو د پاره ډیر فائده من دے . ځکه چه په دے به دیته معلوم شي چه ځمونږ خوږ نبي ترقیاته پیغمبر دے . او د ترقیاتو ضروری تغیر و حالاتو نه د خدائے خبر کړے دے . او دا نن چه کوم تغیر و ته ترقي وائي دا په اصل کښې ترقي نه ده بلکه د ځان او د جهان د تباهۍ سامان دي .

ص مسره ۶ نیه زر او ستاد ت حضرت حاجي صاحب پیچیم چې د تیر ۱۶ او حجره قرآن و حدیث

اوداد قیامت علامے دی - چه دی او په مونږ کښې څه پیدا شویدی - او څه به پیدا شی - نو الله
څما ذا د قران حدیث سره محبت د خدائے د رضا ذریعه او د خوږ نبی ﷺ د شفاعت سبب جوړ کړی -
او خدائے دِ څما والدین بزرگوار غریق الرحمت کړی - او د دوی قبرونه دِ انوارو نه ډک کړی - څما د
نشر و اشاعت په سلسله کښې چه کومو اصحابو نرو او ښځو تر دے چه ورو بچو کوم رقمی او انسانی
امداد د نه کړیدی او کوی الله دِ دیته ډیرے بدلے په دنیا او اخرت کښې ورکړی - او الله دِ څما
په ټولو اهل بیتو مړو او ژوندو خاص رحم اوکړی خاصکر محبوب الرحمن چه څما پوره زړے
ځوے ؤ د اُس اُس وفات شویدے دے دِ خدائے په خپل برزخی ژوند کښې خوشحاله کړی. آمین
وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد و آله وصحبه الف الف مرة اجمعین

۱۳.۴.۱۹۷۳

څما د تصنیفاتو فهرست

(۱) مکمل د دیرشو پارو تفسیر حبیبی پښتو یوه پاره ۲ روپے ۶۰۰۰ تخمیناً: روپے ۶۰—۰۰

(۲) نولس ۱۹ پارے تشریح بخاری پښتو یوه پاره دوه نیمے روپے : ۴۶—۰۰

(۳) تبلیغی نصاب پښتو رسائل تبلیغ، فضائل نماز، فضائل قرآن، فضائل رمضان، فضائل ذکر
۱—۰۰ : ۱—۰۰ : ۱—۰۰ : ۱—۰۰ : ۲—۰۰

فضائل درود شریف، حکایات صحابه رض، تحفه حج،
۳—۰۰ : ۵—۰۰ : ۱—۰۰ :

قرآن وحدیث او نوی ایجادونه او قیامت

۱۴/

حبیب الرحمن و محمد اسرار مالکان دار التصنیف رستم

(ضلع مردان)